PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

او ای انسانه: له نه گوری چې الله پاک د ځمکې ټول څیزونه درته تابع کړي. او هغه کښتۍ هم چې د الله په حکم په بحر کې چلېږي. او اسمان يې ټینگ نیولي چې دځمکې له اجازې پرته په ځمکه رانه پرېوزي بې له شکه الله پاک په خلکو ډېر مهربان او ډېر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې يې ژوندي کړئ بيا مو مړه کوي او بيا مو بېرته راژوندي کوي. ربښتیا هم چې انسان ډېر ناشکره دی. (سورة الحج: ٦٥ - ٦٦ آیتونه)

درس حدیث

انس رضی الله عنه می گوید: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود:
به برادرت چه ظالم باشد و چه مظلوم، کمک کن. اصحاب گفتند: ای رسول خدا! کمک به مظلوم، روشن است ولی چگونه به ظالم کمک کنیم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: دست او را بگیرید و از ظلم کردن، باز دارید. (ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ١١ مه گڼه، پرله پسې ٢١٠ مه گڼه چهارشنبه ١٣٩٢ هـ ل د غبرگولی ١٥ مه د١٤٣٤ هـ ق د رجب ٢٢ مه د٢٠١٣ م د جون ٥ مه

حزب اسلامي افغانستان په هېواد کې د وروستیو بدلونونو په اړه غونډه وکړه

گزارش: عبدالله کامه وال

که حزب اسلامي له نورو گوندونو سره د یو واحد کاندید پر سر هوکړې ته ونه رسېد، نو خپل کاندید به ولسمشریزو ټاکلو ته وړاندې کړي (ارغندیوال)

موږ د افغانستان ملي گټو ته په پام سره، د سولې له پروسې کلک ملاتړ کوو او په دې برخه کې هر ډول همکارۍ ته تیار یو

دروان کال دغبرگولی په ۹ مه حزب اسلامي افغانستان د پلازمېنې کابل په باختر هوټل کې د وروستیو بدلونونو او راتلونکو ټولټاکنو د ارزونې او تشریح په اړه د ولایتي مسؤولینو، ملي شورا غړو، خوانالو او په سلگونو متعهدینو په گډون یوه درنه غونډه وکړه.
دا پرتمينه غونډه دچهارشنبې په سهار نهه بجې د محترم ووور صفاري او سید نادر حاتمي وياندوی او دفاري صبب عتیق الله نوري لخوا....

پاتې دریم مخ

د دولت له وسله والو مخالفینو غوښتنه کوو، چې د جگړې پر ځای دې په ټاکنو کې برخه واخلي او له دې لارې دې واک ته د رسېدو هڅې وکړي. بریدونه او دعامو خلکو وژل د دښمن ژوندي ته د اوبو اچولو او د پردیو دتسلط په مانا ده.

واشنگتن پوست:

آیا کرزی واقعاً از قدرت کنار خواهد رفت؟

امریکا، رسانه ها:
ثبت و راجستر رای دهنده گان در افغانستان جریان دارد و تاریخ تدویر انتخابات ریاست جمهوری این کشور پنجم جون سال آینده، میلادی تعیین شده است.
سیاستمدارن افغان با تشکیل ایتلاف های سیاسی، ازهمین اکنون برای بحث در مورد اجندا، پالیسی ها و کاندید ها آماده گی می گیرند.
روزنامه، واشنگتن پوست می نویسد:
اما با وصف این نشانه های تمرین دموکراسی درعمل، این سوال به مشابه، یک سایه، تاریک روی انتخابات پرده افگنده است:
آیا طوری که قانون اساسی افغانستان صراحت دارد، رییس جمهور کرزی حاضر است، قدرت را بسپارد؟
یا اینکه با دخالت در پروسه، انتخابات، یا نصب یک متحد خودش برای نگهداشتن قدرت راه های دیگر را جستجو خواهد کرد؟
تا خودش را به قصر ریاست جمهوری که بیش از دو دهه در اختیار دارد، نزدیک نگهدارد.
به نوشته، روزنامه، واشنگتن پوست، کرزی و دستیارانش به ملت نگران افغانستان و جامعه، بین المللی اطمینان داده اند که با پیروی از قانون، بزاساس موعد تعیین شده، ...

بقیه در صفحه ۴

پنج نمایندۀ ولسی جرگه ممنوع الخروج اعلام شدند

کابل، رسانه ها:
لوی څارنوالی اعلام کرد که پنج نماینده ولسی جرگه که به فساد مالی و سوء استفاده ازمقام خود متهم شده بودند، ممنوع الخروج شده اند.
بصیر عزیزی سخنگوی لوی څارنوالی، روز سه شنبه طی یک نشست خبری در کابل گفت که دستور منع خروج این نماینده گان از کشور، پس از آن گرفته شد که به دستور لوی څارنوالی بی اعتنایی کردند.
عبدالظاهر قدیر محمد عظیم محسنی، سمیع الله صمیم، محمد عارف رحمانی، محمود خان سلیمان خیل و حمیدزی لالی از سوی حضرت عمر زاخیلوال، وزیر مالیه متهم شده بودند که در کار قاچاق دست دارند و از مقام خود سوء استفاده می کنند.
وزیر مالیه، بتاریخ ۲۳ ماه ثور سال جاری،

بقیه در صفحه ۴

فاروق وردگ:

د افغانستان د کانکور په سیستم کې به بدلون راشي

کابل، رسنۍ:
د پوهنې وزارت چارواکې وايي، امکان لري د افغانستان د کانکور په سیستم کې بدلون راشي.
د پوهنې وزير فاروق وردگ په کابل کې وویل؛ بنايي په دې سیستم کې داسې بدلون راشي چې تکړه شاگردان پرته له کانکور ازموینې پوهنتونو ته لاره پیدا کړي.
تر دې مخکې جمهور رییس حامد کرزي هم په افغانستان کې د کانکور د ازموینې په سیستم تغییرات مهم بللي و.
د پوهنې وزير که څه هم وويل؛ چې په پوهنتونونو کې د شاملیدو په تگ لارې کې د بدلون خبر ورکړ؛ خو ويې ويل؛ چې دا پرېکړه لا تر اوسه تصویب شوې نه ده.
ډاکتر فاروق وردگ زياته کړه؛ که په دې اړه پرېکړه وشي نو به پوهنتونو کې د داخلیدو لپاره به د کانکور ازموینې رول دېرش فیصدو ته راټیټ شي.
ښاغلي وردگ دا هم وويل، هغه زده کوونکي به د کانکور له ازموینې پرته په پوهنتونو کې داخلېږي؛ چې د ښوونځيو په وروستیو دریو ټولگیو کې يې لوړې نمرې وړې وي.
"زه غواړم مخکې له دې چې بو خبر تصویب شي، تاسو ته ووايم...

پاتې ۴ مخ

ایران سعی دارد نفوذش را در افغانستان گسترش دهد

کابل، رسانه ها:
به گفته وزارت داخله، افغانستان، ایران تلاش می کند با ایجاد مراکز فرهنگی و خیریه در امورات داخلی افغانستان مداخله نماید.
عبدالرحمان رحمانی معین این وزارت می گوید. کشور های همسایه به خصوص ایران

بقیه در صفحه ۴

سور صلیب له افغانستانه بهرني کارکوونکي باسي

وکړ چې له افغانستان څخه خپل ټول بهرني کارکوونکي باسي.
سره صلیب دا اعلان نژدې یوه اوونۍ وروسته له دې وکړ چې وسله والو سخت دریځو په جلال آباد کې د دې نړیوالې کمېټې پر دفتر برید وکړ، یو يې وسلې ساتونکی يې ووژه، او بل ديې ټپي کړ. په برید کې د سره صلیب...

پاتې ۴ مخ

کابل، رسنۍ:
د سره صلیب نړیوالې کمېټې نن اعلان

پاکستان بیا په گوشته کې د پوستو د جوړولو په هڅه کې دی (کریمي)

کابل، رسنۍ:
د افغانستان دفاع وزارت چارواکي وايي؛ چې پاکستان هڅه کوي یو ځلې بیا د ننگرهار په سرحدي ولسوالۍ گوشتې کې پوستې جوړې کړي.
لوی درستیز شیرمحمد کریمي چې د سې شنبې په ورځ...

پاتې ۴ مخ

اعتراف دو تن از سربازان انگلیسی به آزار و اذیت افراد غیر نظامی در افغانستان

لندن، رسانه ها:
دو تن از نظامیان انگلیسی که به آزار و اذیت غیرنظامیان افغان متهم شده بودند، اروز سه شنبه در یک محکمه نظامی به اتهامات خود اعتراف کردند.
بر اساس گزارش تلویزیون 'سکای نیوز'، محکمه نظامی رسیدگی به اتهامات این نظامیان در یکی از پایگاه های نظامی انگلستان در شهر 'سنلاگر' آلمان تشکیل شد. انگلستان از دوران جنگ سرد چند پایگاه نظامی در آلمان دارد.
این تلویزیون انگلیسی گزارش: این دو نظامی ...

بقیه در صفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېځلي نامه

افغانانو ته د کومې گناه سزا ورکول کېږي؟!

هغه گاونډي هېوادونه نيکمرغه او بختور دي چې پخپلو کې سره د گاونډيتوب ښې اړيکې او له يو بل سره همدردي لري، د افغانستان هېواد ددې باوجود چې له هر گاونډي هېواد سره دوستانه اړيکې پالي او د هر چا په درد دردېږي مگر ځينو گاونډيانو له افغانستان سره د ښه گاونډيتوب ټول اسلامي، اخلاقي او بين المللي اصول تر پښو لاندې کړي دي، افغانستان يې د خپلو گټو د مسابقې ډگر گرځولی او تل د خپلو اهدافو د پلي کولو په لټه کې دي. همدا لامل دی چې افغانستان د څو لسيزو راهيسې د بم او باروتو په ډگر بدل شوی، دلته ددې پرځای چې عمراني کارونه وشي او د جنگ ځپلو او غربت وهلو افغانانو کړاوونه کم کړي برعکس د تباهۍ او ويجاړي پلانونه پرمخ وړي، داسې ورځ نه تېرېږي چې بې گناه افغانانو وينې ونه بهيول شي، داسې شېبه نه تېرېږي چې ښوونځي، پلونه، سړکونه، کلينيکونه او نور عام المنفعه تأسيسات له منځه يونه وړل شي، داسې ساعت نه تېرېږي چې افغانانو ته د غمونو او ويرونو پندونه په سر نه کړی شي. افغانستان افغانانو لپاره د دوزخ کنده گرځول شوې او هره ورځ د سلگونو په شمېره کې د بم او باروت په لمبو کې ورېتېږي خو گاونډيان ددې پرځای چې ددغې شيطاني لوبې د ختمولو لپاره له افغانانو سره مرستې وکړي نور هم ورته وده ورکوي، مگر بيا هم ددې ټولو بدبختيو پړه پر افغانانو اچوي او همدوی قصوروار گڼي. په داسې حال کې چې په افغانستان کې د جنگ جګړو او بدبختيو کوم اور بل شوی دی، ددې تر شا لوی لاس د گاونډيانو دی. لومړی پخوانی شوروي اتحاد په افغانستان کې د خپلو ناوليو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره فکري او نظامي مداخله وکړه او دهغه له ماتې وروسته بيا گاونډيانو افغانستان د خپلو گټو د مسابقې ډگر وگرځاوه چې دهغوی د همدغو رقابتونو په نتيجه کې افغانستان د ۴۴ هېوادو د نظامي حضور کوربه شو. که چېرته گاونډيانو له افغانستان سره د ښه گاونډيتوب اصول خپل کړي وای او دهغوی له مجبوريت نه د ناروا گټې د اوچتولو پرځای لاس نيوی يې کړی وای، افغانستان به ولې د امريکا او ناټو ځواکونو په اډه بدل شوی و ؟! ولې به ددوی له شتون څخه ويره کول او ولې به خپلو هېوادونو لپاره خطر گڼل؟!

که گاونډيان نن هم له عقل او منطق نه کار واخلي او د خپل ضمير عدالت ته ودرېږي نو دا واقعيت به ضرور ومني چې ددغو ټولو بدبختيو اصلي لوبغاړي همدوی دي، افغانستان او د سيمې امنيت همدوی له گواښ سره مخامخ کړې، هغوی چې پخپل لاس دلته څه کرلي وو اوس دهمغه ثمره ترلاسه کوي. خو ډېر افسوس گاونډيان ددې پرځای چې خپلې گناه ته متوجه شي او خپل ځانونه ملامت کړي بيا هم لگيا دي د خپلو گناهونو سزا د افغانستان ځوريدلې ولس ته ورکوي، وينې يې تويوي او مال و حال يې تباه کوي. افغانان کله هم دا نه خوښوي چې هېواد يې د ۴۴ هېوادو د پوځيانو کوربه وي خو پوښتنه داده چې دا حالت ورباندې چا راوست هغوی ته دا لاره چا هواره کړه، افغانانو که د افغانستان گاونډيانو؟! له څه شک پرته افغانان د خپلې ناکرده گناه سزا وينې او د گاونډيانو د غلطې پاليسۍ قرباني شوي دي، خو ددې د حل لاره دا نه ده چې گاونډيان دې لدې وروسته د غلطۍ دپاسه د نورو غلطيانو ارتکاب وکړي او د خپل انتقام هدف افغانان وگرځوي. دوی دې دا واقعيت ومني چې له مينې نه مينه، او له کرکې نه کرکه پيدا کېږي، دوی چې څومره پر افغانانو د خپلو ځورونو فشارونه زياتوي افغانان هم همغومره ترينه کرکه کوي او په حالاتو کې د سمون د راتلو پرځای نور هم تاوتريخوالی زياتېږي چې له تاوان پرته بل هيڅ مثبته پايله نه لري.

ښه به دا وي چې گاونديان نور خپلو تېرو اشتباه گانو ته متوجه شي او ددې پرځای چې بې گناه او مجبور افغانان د بم او باروت په لمبو کې وسوځوي او د افغانانو په زړونو کې د کرکې تخم وشيندي معقوله او منطقي لاره خپله کړي او د وروری په فضأ کې له دغه مشکل نه د وتلو لپاره داسې منطقي او معقوله لاره چاره ولټوي، چې سيخ او کباب دواړه ونه سوځي، افغانان دې پرېږدي چې د يو آزاد او خپلواک ولس په څېر د خپل سرنوشت ټاکلو حق پخپله ترلاسه کړي، ځکه چې د افغانستان ثبات د گاونډيو او د سيمې هېوادو د ثبات ضامن دی او په افغانستان کې د ثبات او استحکام له ټينگولو پرته به دوی هم د ښې ورځې مخ ونه ويني، او خامخا به د افغانستان په سرنوشت اخته کېږي.

استاد نصير احمد نويدی

آرمانهای خفته درخاک شهدای ۸ و ۱۴ جوزا

چه کسی آرمانهای شهدای ۸ و۱۴ جوزا را متحقق خواهد ساخت؟

شهدای ۸ و۱۴ جوزای ۱۳۵۸ هـ ش در زندان پل چرخی که برخلاف تمام نورمهای قبول شده انسانی بدست جلادان رژیم خلقی قربانی گردیدند، نسلی بی نظیر، با آرمان وامید آفرین بود. نسلی که زندگی را درآیینه دعوت وجهاد می دید وآینده را ازآن اسلام می دانست. اینها نه تنها خود با آرمان زیستند، بلکه آرمانهای خود را چون میراث گران بهایی به نسل های بعدی به میراث گذاشتند واینک بعد ازگذشت نزدیک به چهار دهه، باوصف فراز ونشیب فراوا ن وعروج وزوال ها، هنوزهم آرمانهای شان زنده است و مخلص ترین فرزندان این مرزو بوم جهت تحقق آرمانهای ایشان درصحنه حضور دارند.

آنها چه میخواستند؟

پیشگامان نهضت اسلامی افغانستان مانند جد مبارز شان سید جمال الدین افغانی به این باوربودند که مشکلات افغانستان درسه محور اساسی خلاصه می شود: استعماربیرونی واحزاب وابسته به آن، استبداد داخلی وحواریون ایشان وجهل مردم وپیامد های آن.

درحالیکه ملت درخواب غفلت غنوده بود و حکام غرق عیاشی خود بودند، رهروان نهضت یقین داشتند که اتحاد جماهیرسوسیالیستی شوروی آن وقت به عنوان یک ابرقدرت درصدد بلعیدن افغانستان ورسیدن به آبهای گرم بحرهند است وبخاطراین مقصد، حزب دیموکراتیک خلق (دارو دسته خلق وپرچم) را ایجاد وآن را با مفکوره سوسیالیستی مجهز ساخته است تا وسیلهء خوبی باشد برای غصب کامل قدرت سیاسی درافغانستان وتحقق اهداف شوم شان درین خطه.

هم چنان نسل اول حرکت به این باوربود که استبداد سلطنتی وبعد جمهوری داود خان نه تنها برثروتها ومقدرات مردم بشکل نا جائزتسلط حاصل نموده اند که بخاطر دوام این تسلط ازعلمای درباری وخان ها ومتنفذین استفادهء سوء می نماید. آنها را باوربرین بود که بی تفاوتی نظام سلطنتی دربرابرجریانات سیاسی درکشور سبب شده است که گروه های چپی رشد سریع نموده و نتیجه آن سقوط قریب الوقوع افغانستان دردامن شوروی خواهد بود. واما جهل وپس ماندگی که محتاج شرح نمی باشد ونه تنها دیروز که امروز نیز ملت ما از آن می نالد واز تبعات منفی آن رنج می برد.

به اساس تحلیل فوق، آرمانهای حرکت اسلامی را نیزمیتوان درسه نقطه خلاصه نمود:

یک سد نمودن مداخلات استعماری از طریق مقابله با احزاب چپی خاصتاً دسته های خلق وپرچم واثبات پوچی نظریه سوسیالیستی دربرابرملت.

دو- جاگزین ساختن حکومت عدل اسلامی به عوض نظام استبدادی خاندانی (چی درشکل سلطنتی وچه هم درشکل جمهوری آن) ، تا نوامیس ملت محفوظ گردیده و ثروتهای مردم به ایشان بازگشتانده شود.

سه- نشر فهم درست اسلام،مبارزه با جهل وخرافات ورسوا ساختن چهره هایی که بنام دین درخدمت استبداد قرارداشتند.

این بود آرمانهای متعالی نسل اول حرکت که بخاطرحصول آن شب وروز تلاش می نمودند ودر راه آن اززندان، تبعید، کشته شدن وشهادت باکی نداشتند.

آرمانهای شهداء سه دهه پس ازشهادت شان:

اگر با تأمل درآرمانهای سه گانه، حرکت، نظری بیافگنیم دیده میشود که بند اول آرمان شان به توفیق پروردگاراولاً، وبه برکت قربانیهای بیدریغ ایشان، ثانیاً، کاملاً تحقق یافته. تا جایی که نه تنها فلسفه سوسیالیزم شکست خورده که اتحاد جماهیرسوسیالیستی شوروی نیز به گودال تاریخ سپرده شده است. گروه های چپی خلق وپرچم نیزازبین رفته هرچند بیشترپیروان آن برخلاف شعاردیروزی با " امپریالیزم" آشتی نموده ودرخدمت امریکا قراردارند. افغانستان ازشراتحاد جماهیر شوروی وجهان از شربلاک سوسیالیستی نجات یافته اند، اما افغانستان وجهان جولان گاه تاخت وتازدنیای کاپیتالیستی به سردمداری امریکا قرارگرفته است.

ودرخصوص بند سوم، هرچند چهره هایی که درزمان ایشان درخدمت استبداد قرار داشتند رسوا شده وشاید بیشتر شان ازبین هم رفته باشند ، اما فرهنگ تملق برای حکام معامله کردن دین بخاطر دنیا نه تنها ازبین نرفته که متأسفانه اززمان ایشان رونق بیشترنیزیافته است. چه بسی نامهای کلان وچهره های نامدار دیروزکه امروزاعتبارشانرا بخاطرنزدیکی با حکام فاسد درمیان ملت ازدست داده اند.

واما بزرگترین آرمان شهدای که عبارت ازقیام حکومت اسلامی باشد متأسفانه نه تنها تحقق نیافته که با درنظرداشت اوضاع جاری مملکت،چشم انداز آن هم نزدیک به نظرنمی رسد.

رسالت ما:

پروردگار در مورد نسلهای گذشته به صورت عموم یک فیصله دارد وآن اینکه:

ترجمه: آن جماعت را روزگار به سر آمد دستاورد آنان برای آنان و دستاورد شما برای شماست و از آنچه آنان می‌کرده‌اند شما بازخواست نخواهید شد. (سوره بقره آیه ۱۳۴)

واما دررابطه به مؤمنینی که صدق ایمان شان را بوسیلهء شهادت خود به اثبات رسانیده اند میفرماید که:

ترجمه: از میان مؤمنان مردانی‌اند که به آنچه با خدا عهد بستند صادقانه وفا کردند برخی از آنان به شهادت رسیدند و برخی از آنها در [همین] انتظارند و [هرگز عقیده و تعهد خود را] تبدیل نکردند. (سوره احزاب آیه۲۳)

بناءً، آنانی که رفتند صداقت شان را دربرابرپروردگار به اثبات رسانیدند واما آنهایی که باقی مانده اند، باید درطریق تحقق آرمانهای ایشان قدم گزاشته ودرجهت منفی تغییر نخورند چنانچه بسیاری ها انحراف کردند.

با گذشت سه ونیم دهه ازقربانی تاریخی شهدای ۸ و۱۴ جوزا، وتقدیم یک ونیم میلیون شهید دیگروبجا ماندن دومیلیون بیوه ویتیم، موانع اساسی دربرابرملت بازهم استعمار(ومزدورانش)، استبداد(وفسادش) وجهالت (با انواعش) میباشد. یگانه تفاوت در شکل استعمار، ترکیب استبداد وکیفیت جهالت امروز است که یقیناً با آنچه درسه دهه، قبل بود، تفاوت هایی دارد.

ادامه دهندگان راه شهدای جوزای ۵۸، تا وقتی این سه مانع بزرگ را با هوشمندی وثبات ودعوت گری وجهاد همه جانبه شان از راه مردم دور نسازند، نه آرمانهای شهداء تحقق خواهد یافت ونه هم ملت ما روی عزت مندی و سعادت، بهروزی ورفاهیت را خواهد چشید.

بدون شک، این راهیست طولانی ودشوار، ولی راه دیگری جز آن وجود ندارد. بناءً، لازم است تا عزم ها را درراه تحقق آرمانهای شهداء جزم نمود ولوکه تحقق آن یکی دو نسل دیگر ازما را قربانی بگیرد.

به امید تحقق آرمانهای برحق شهداء درسرزمین شهداء.

حزب اسلامي افغانستان په هېواد کې د وروستیو بدلونونو په اړه غونډه وکړه

گزارش: عبدالله کامه وال

(د لومړي مخ پاتې برخه)
د عظیم الشأن قرآن د څو مبارکو ایاتونو په تلاوت پیل شوه.
دغونډې لومړې ویناوال دسولې دعالي شورا مرستیال او جهادي شخصیت مولوي عطاءالله لودین و، ښاغلي لودین تر هر کلیزې وینا وروسته دغونډې پر اجنډا او اهمیت رڼا واچوله. او د حزب اسلامي ورونه یې د خپلو دیني او اسلامي وجایبو ته متوجه کړل.
له مولوي لودین وروسته دحزب اسلامي مرستیال انجنیر محمد خان د رواني سیاسي وضعې، راتلونکو ولسمشریزو او سیاسي بدلونونو په اړه پراخ معلومات وړاندې کړل اودحزب اسلامي له متعهدینو یې دخپلو صفونو دلاپیاوړی ساتلو او یووالي غوښتنه وکړه اوپرولایتي مسؤولینو یې غږ وکړ چې په ولایتونو او ولسوالیو کې دې خپل فعالیتونه لاګړندي اومنظم کړي.
ښاغلي ارغندیوال دخپلې ارزښتناکې وینا په ترڅ کې د حزب متعهدینو ته وویل:
په ټاکنو کې برخه اخیستنه خلکو ته د چوپړ او واک ته د رسېدو غوره لاره ده. نوموړي دټاکنو په هکله وویل؛ چې بدې پروسه کې لاسوهنې وکړي اودرغلي ته زمینه برابره کړي.

برخه کې هر ډول همکارۍ ته تیار یو او زیاته یې کړه چې حزب اسلامي افغانستان په ۲۰۱۴ کال کې د بهرنیو ځواکونو دوتلو هر کلي او ملاتړ کوي، او د دولت له وسله والو مخالفینو غوښتنه کوو، چې د جګړې پر ځای دې په ټاکنو کې برخه واخلي او له دې لارې دې واک ته د رسېدو هڅې وکړي. بریدونه او د عامو خلکو وژل د دښمن ژرندې ته د اوبو اچولو او د پردیو دتسلط په مانا ده.
په یاده غونډه کې دحزب اسلامي مرستیال انجنیر محمدخان ، داجرایه شورا غړی اوولایتي مسؤول الحاج سید رحمان واحدیار ، سیدعمر اعزامي ، داکتر فضل محمد ابراهیمي ، الحاج عبدالجبار شلګری، دحزب اسلامي دځواناتو مشر داکتر سیف الدین ارزښتناکې ویناوې وکړې او معلومات یې ورکړل.
دمشرانو دویناوو وروسته دغونډې دویمه برخه چې دګډونوالو پوښتنو ته ځانګړې شوې وه.
د حزب اسلامي رئیس ښاغلي ارغندیوال دګډونوالو پوښتنو ته ځوابونه وویل: دیادونې وړ ده چې دغونډې په وروستي برخه کې دلغمان ولایت پخواني ولایتي مشر حاجي محمد عمر، دکونړ ولایت پخواني ولایتي مشر انجنیر شیر علي او دنیمروز ولایت ولایتي مسؤول داکتر صیب غلام رباني ته دهغوی دښه خدمتونواو پخپلو چارو کې یې دپام وړ لاسته راوړنو او ابتکاراتو په صله کې دحزب اسلامي دریس له لورې تقدیر نامې ورکړې شوې.
غونډه مازدیګر په پنځه بجې د

ولایتي ټولټاکنواو پکې دحزب اسلامي پر سیاسي دریځ او ونډه هر اړخیزې خبرې اترې وکړې او پر هغه مسایلو یې رڼا واچوله چې پدې وروستیو کې ترسره شوي وو او د حزب اسلامي د ورونو ترمنځ به پرې همیشه بحثونه کیدل.
یادې غونډې دوه برخې درلودې لومړی برخه یې دمشرانو وینا و ته ځانګړې شوې وه او دوهمه او وروستۍ برخه یې دګډونوالو پوښتنو ته.
په یاده غونډه کې دنورو ویناوالو ترڅنګ دحزب اسلامي ریس او د اقتصادوزیر الحاج عبدالهادي ارغندیوال یوه ارزښتناکه وینا وکړه چې دغونډې دګډونوالو له لورې دتکبیر په نعرو بدرګه کیده. ښاغلي ارغندیوال په روانو حالاتو دحزب اسلامي پرموقف او هکله زموږ تماسونه اوخبرې دسیاسي احزابو سره رواني دي خوکومې پریکنده پایلې ته نه یو رسیدلي البته دولسمشر د دویم مرستیال کریم خلیلي په مشرۍ له وحدت ګوند سره هوکړې ته نیږدې شوي یو او د ډاکتر عبدالله عبدالله په مشرۍ له ملي ایتلاف او نورو مطرحو ګوندونو سره خبرې اترې رواني دي اوهڅه مو داده چې پر یوه ملي اجماع توافق ته ورسیږو .
د دوی په وینا، که حزب اسلامي له نورو ګوندونو سره د یو واحد کاندید پر سر هوکړې ته ونه رسېد، نو خپل کاندید به ولسمشریزو ټاکنو ته وړاندې کړي.
هغه پر حکومت او اړوندو ارګانونوهم غږ وکړ، چې راتلونکې ټاکنې دې رڼې ترسره کړي او هیڅ کورني او بهرني ته دې اجازه نه ورکوي ، چې د ټاکنو په

ښاغلي ارغندیوال په هیواد کې امنیت اوثبات دراوستو په هکله وویل: موږ د

افغانستان ملي ګټو ته په پام سره، د سولې له پروسې کلک ملاتړ کو او په دې عمرخیل او نورو مشرانو هم دخپلو کمیټو او نورو اړوندو مسایلوپه هکله مولوي صیب سرفراز په دعائیه پای ته ورسیده.

بې ځایه اختلاف زموږ ځواک کمزوری کوي

محمد خلیل

لدې څرګند واقعیت نه هیڅ دردمند افغان که هغه د افغانستان له هرې سیمې او هر توکم څخه وي انکار نشي کولې چې افغانستان په اوسنیو شرایطو کې د ورکوټي نه ورکوټي اختلاف تحمل نه لري.
افغانان چې په فعلي شرایطو کې څومره زیات ملي یووالي او همغږۍ ته اړتیا لري، لدې وړاندې کله هم نه درلود، په اوس وخت کې د افغانستان خاوره له ډېرو خطرناکو ګواښونو سره مخامخه ده، دښمنان له څلورو خواونه چمتو ولاړ دي چې څنګه فرصت او موقع ورته پیدا شي د افغانستان په سرنوشت د خپلې خوښې لوبه په کار واچوي، هغوی په دې انتظار کې دي چې څومره ژر کیدلې شي د افغانانو ځواک، یووالي او همغږۍ ختمه او خپل ناولي اهداف پکې پلي کړي، نو څکه هغوی د نورو تحرکاتو ترڅنګ په دې پلان هم زیات کوښښ کوي چې د افغانستان په ولس کې د ژبې، قوم، رنګ او سیمې تعصبونو ته پراخه لمنه ووهي او پخپلو کې سره دومره وجنګوي چې ملي یووالي یې فاش فاش او دهغوی په وړاندې د ودرېدو ځواک یې ختم کړي.

د یو هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا، استحکام او پرمختګ اصل راز دهغه هېواد د اوسېدونکو په اتفاق او یووالي کې نغښتل شوي دی، تر څو پورې چې هغوی په یو منظم فولادي صف کې ولاړ وي او پخپلو کې یو بل ته د وروري کلک لاسونه ورکړي وي، بهرني غرضي هېوادونه کله هم نشي کولې چې په هغه هېواد کې لاسوهنې وکړي او خپل شوم اغراض پکې پلي کړي، نو دمسلمان ولس ملي یووالي ته تاوان ورسوي.
اوس اوس چې په پیژند پاڼو کې د افغان نوم د لیکلو او نه لیکلو په اړه کوم اختلافات مخې ته راغلي دی او په حمایت او مخالفت کې شدید عکس العملونه ښودل کېږي دا اصلاً د افغانستان د مسلمان ولس په ګټه نه دی، فایده یې دښمنانو او تاوان یې سراسر افغانانو ته رسېږي.

ځکه د استعماري هېوادونو لومړی کوښښ همدا وي چې چېرته هم خپل ناولي اهداف پلي کول غواړي ولسونه یې پخپلو کې سره د قوم، ژبې او سمت په نوم وجنګوي.
د افغانستان مسلمان ولس باید دومره ویښ او حساس وي چې کله هم څوک د ژبې ، قوم، رنګ او سیمې په نوم سیاست کولو ته خپل قوم وپاروي دهغه تر شا ونه درېږي او کله هم اجازه ورنکړي چې د افغانستان

د افغانستان هر اوسېدونکی افغان دی او تر هغه د یو چا بشپړ پیژندګلوي نشي کیدلې تر څو پورې چې دا نه ونه وایي زه افغان یم ، ځکه خو هر سیاسي مشر که هغه د هر قوم وي چار او ناچار پخپلو تقریرونو او ویناو کې دا خبره له خپلې خولې وباسي چې (من بحیث یک افغان مسؤولیت دارم که به وطن خود خدمت نمایم) هغه کله هم دا نه وایي او نه ویلی شي چې زه د فلان قوم په حیث مسؤول یم چې د خپل هېواد خدمت وکړم. له

همدې ځای معلومېږي چې د افغانستان هر اوسیدونکی لومړی افغان دی او بیا تاجک ، پښتون، ازبک، هزاره، بلوځ، پشه یی، نورستاني، ترکمن او ګوجر.
له افغانستان نه دباندې په بهرنیو هېوادو کې اوسیدونکي افغان وګړي هم د افغان په نوم یادېږي او دهغوی د هویت په کارتونو کې افغان ستیزن لیکل شوی دی، نه پښتون، تاجک، ازبک، هزاره او ... د افغان نوم په لیکلو سره هویت بشپړېږي خو د تاجک، پښتون او بل قوم په لیکلو سره نه بشپړېږي.
د افغان نوم په لیکلو سره د چا د قوم نفې نه کېږي، نه یې د قوم نوم له منځه ځي او نه یې ژبه ; بالکل داسې لکه چې د یو کور د غړو نومونه له منځه نه ځي او هر یو پخپل نوم یادېږي. موږ ټول په افغانستان کې د اوسیدونکو په حیث افغانان یو، مګر قومونه او ژبې مو سره جلا دي چې ټول د یو بل پرګنی او ژبې ته د احترام په سترګه ګوري.
ځانو ته افغان ویل او افغان لیکل زموږ د ټولو بشپړ پیژندګلوي په ګوته کوي مګر یواځې د قومونو په لیکلو او ویلو سره بشپړ تعارف نشي ترلاسه کیدلې.

دغه رنگه مرتابي لوره امت گرغولي پاسته چي پر خلکو گرامان لوسي

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

خبرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانگه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه سترددیږي . یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شانه، خوشال خان مېنه ، کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

حامد کرزی نه غواړي؛ چې د پاکستان مهربانۍ ته انتظار وکړي

فارن پالیسي خپرونه لیکي: جمهور رییس حامد کرزي هڅه نه د پوخي غوښتنو له لست سره تنگ مخکې لږ تر لږه په اصولو کې له پاکستان سره مذاکرو ته یو بل ورو ستی چانس ورکړ.

ولسمشر کرزی د اپریل په څلورویشتمه نېټه بروکسل ته ولاړ .

ده هلته د امریکا د بهرنیوچارو له وزیر جان کري او د پاکستان د پوخ له مشر جنرال اشفاق کیاني سره وکتل چې تر ۲۰۱۴ کال وروسته یې له طالبانو سره د موافقې په خاطر همکارۍ مهمه گڼل کېږي .

د فارن پالیسي په لیکنه : د افغانستان او پاکستان ترمنځ مشنجې اړیکې د اپریل په میاشت کې تر هغه وروسته چې د پاکستان پوځ په داسې سیمه کې چې افغان لوري خپله گڼله د دروازې جوړولو هڅه وکړه ، د خرابوالي نوي مرحلې ته ورسیدې.

جمهور رییس حامد کرزي د پاکستان د دې اقدام په ځواب کې خپل پوځ ته امر وکړ؛ چې دا دروازه او د ډیورند کرښې ته نږدې د پاکستان د پوځ نور تاسیسات چپه کړي.

فارن پالیسي لیکي : دې پېښې ته په پام، په دې کې د شک ځای نشته چې ښايي جمهور رییس حامد کرزی بلجیم ته تر تگ مخکې له پاکستانه مایوسه شوی وو .

د خپرونې په لیکنه، ولسمشر کرزي د قدرت په وروستي کال کې له طالبانو سره د جوړ جاړي له لارې د سولې د تامین لپاره حتی د خپل کورنی سیاست پرخلاف په وار وار له پاکستان سره د نږدې کیدو هڅه کړې ده .

دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې دننه د پاکستان ضد احساسات د زیاتیدو په حال کې دي.

خو فارن پالیسي لیکي : اوس داسې څرگندیږي چې جمهور رییس حامد کرزی نور نه غواړي چې د پاکستان مهربانۍ ته انتظار وکړي.

واشنگټن پوست ورځپاڼه په لوگر کې د وسله والو طالبانو پر ضد د سیمیزو تشکیلاتو په اړه یوه مقاله لري .

ورځپاڼه د فرهاد اکبري په نوم د یوه ۳۳ کلن افغان ژوند ته کتنه کوي چې وایي یو کال مخکې یو عادي ساختماني انجینیر وو او د پوست په لیکنه د امریکایي د پوځ د قراردادي پروژو له برکته شتمن شو.

فرهاد اکبري اوس وسله لري او په چیریکې ډول د خپل کلي خلک او نور وسله وال د وسله والو طالبانو پر ضد رهبري کوي.

واشنگټن پوست ورځپاڼه لیکي چې فرهاد لږترلږه اویا تنه نور ځوانان چې په هغوی کې یو شمیر پخواني طالبان هم شته له ځان سره ملگري کړي دي .

دوی په سیمه کې له پولیسو سره زیاته همکاري کوي او وایي هغه کسان چې تقاعد یې کړی او یا کار نه لري د سیمې د امنیت د ټینگولو لپاره له پولیسو سره ملگرتیا ته هڅوي او د کلي په گرمه کې برخه ور کوي.

د لوگر سیمیزو چارواکو د وسله والو طالبانو د فعالیتونو د ځپلو لپاره د فرهاد اکبري هڅې ستایلې خو په عین حالکې اندیښنه هم څرگندوي.

په لوگر کې د امنیتي ځواکونو او نړیوالو قواوو له پراخ حضور سره هم د وسله والو طالبانو د تخریبي فعالیتونو زیاتوالی د اندیښنې وړ دی.

خو واشنگټن پوست لیکي :

هغه ځواکونه چې فرهاد اکبري یې مشري کوي له دولتي او بهرنیو ځواکونو سره فرق لري. دولتي ځواکونه له نورو سیمو څخه استخدام شوي وي خو د فرهاد پلویان ټول د سیمې خلک دي او په خپله منطقه کې ښه بلد دي.

پنج نمایندۀ ولسی جرگه ...

از سوی شماری از نماینده گان ولسی جرگه به دلیل اتهام فساد مالی استیضاح شده بود؛ اما وی دراین نشست، اتهام فساد مالی علیه خود را رد کرد و توانست از ولسی جرگه رای تایید بگیرد و در مقام خود ابقا شود.

دو روز پس از رویداد، این شش نماینده اتهامات مطرح شده از سوی وزیر مالیه را رد نمودند و اعلام کردند که در صورت اثبات آن، حاضراند از وظیفۀ نماینده گی خود استعفا دهند.

لوی څارنوالی، هفته گذشته از نماینده گان متهم خواست تا طی یک هفته برای پاسخگویی در مورد این اتهامات، به این اداره حاضر شوند؛ در غیر آن اقدامات تازه ای علیه آنان صورت خواهد گرفت.

سخنگوی لوی څارنوالی، در نشست خبری خود گفت که مهلت لوی څارنوالی روز گذشته)۱۳جوزا(به پایان رسید؛ اما به جز حمید زی لالی، دیگر متهمان بخاطربررسی اتهامات مطرح شده علیه خود، به لوی څارنوالی حاضر نشدند.

بصیر عزیزی خاطرنشان کرد که یک هیئت از مقام های ارشد لوی څارنوالی، به خاطر بررسی بیشتر این قضیه توظیف شده و نتایج آن، به زودی اعلام خواهد شد.

اما عبداللطیف پدرام، عضو "کمیسیون بررسی ادعاهای وزیرمالیه، ازسوی ولسی جرگه" به پژواک گفت که این کمیسیون، طی سه مکتوب رسمی از وزیر مالیه خواسته بود تا اسناد خود برای اثبات اتهامات را ارائه کند.

وی گفت:

"تا کنون وزیر مالیه، اسناد مورد نظر برای اثبات این اتهامات را به این کمیسیون و لوی څارنوالی ارائه نکرده است."

وی افزود که ولسی جرگه، تصمیم گرفته است به دلیل عدم دریافت این اسناد از سوی وزارت مالیه، روز چهارشنبه ۱۵ جوزا، در نشست عمومی خود، این شش نماینده را بی گناه اعلام کند.

آیا کرزی واقعا از قدرت کنار...

قدرت را خواهد سپرد.

انتخابات موفق یعنی فارغ از تقلب و خشونت، یک تضمین قاطع برای تامین ثبات در افغانستان بعد از خروج نیروهای بین المللی در سال آینده، محسوب می شود.

رییس جمهور کرزی اخیراً در یک کنفرانس مطبوعاتی گفته است:

"هیچ چیز نمی تواند انتخابات را به تعویق بیندازد."

وی از همه، گروپ های سیاسی خواسته، در عقب چند کاندید مناسب گرد هم بیایند و تعهد کرده است که شخص برنده را خواهد پذیرفت.

کارشناسان و دیپلوماتان به روزنامه، واشنگتن پوست گفته اند، بزرگترین خطر اینست که اگر انتخابات افغانستان نتواند یک حکومت با اعتبار را بسازد، ملت را دستخوش توفان ساخته، در شرایطی که بخش اعظم نیرو های خارجی این کشور را ترک می کنند، طالبان و سایر شورشیانی را قوی خواهد ساخت که از بیزاری مردم از حکومت سود می برند. روزنامه، واشنگتن پوست می نویسد: با وصف حمایت های لفظی حامد کرزی از انتخابات، تعویق در تصویب و یا مخالفت وی با برخی اصلاحات در پروسه، انتخابات، یکی از منابع انتقاد بر حامد کرزی بوده است.

کاندید شدن قیوم کرزی در انتخابات متضمن آرامش خاطر رییس جمهور درحال رفتن است که توسط برادر سرمایه دارش محمود کرزی که در امریکا نیز ارتباطاتی دارد، حمایت می شود.

معین مرستیال مانند سایر افغان های منتقد که حکومت کرزی را ترک کرده اند، با ابراز نا امیدی از رییس جمهور کرزی به روزنامه، واشنگتن پوست گفته است، وی اطمینان دارد که حامد کرزی با طرح پیروزی یک متحدش و یا هم از طریق مداخله، مستقیم در مراکز راه دهی، برای حفظ کنترول تلاش خواهد کرد.

به گفته، معین مرستیال، حامد کرزی برای انتخابات آماده نیست و هنوزهم می خواهد برای پنج تا ۱۰سال آینده به مثابه، یک فرد کلیدی افغانستان باقی بماند.

به گفته، آقای مرستیال، یگانه امید اینست که با حفظ اتحاد و بۀ شیوه، قدیم، با انتخاب یک فرد شایسته از این کار جلوگیری شود، در غیر آن شاهد انتخابات واقعی نخواهیم بود.

د افغانستان د کانکور په سیستم ...

هغه دا چې شاید وروسته له دولسم ټولگې څخه پراخیږي شي د قضاوت د کانکور ازموینه نه وي هغه کسان چې ثانوي دورې کې لوړې نمرې ترلاسه کړي وي پرته له ازموینه څخه کولای شي؛ چې د خپل د خوښې وړ پوهنتون ته لار پیدا کړي."

خو وخته وړاندې جمهوررییس کرزي هم د کانکور په سیستم کې د تغییراتو په راتللو ټینگار وکړ او ویل هغه کسان چې لوړې نمرې د ښوونځیو په وروستیو دریو کلنو کې وړي، نو باید پرته له امتحان څخه پوهنتون ته لار پیدا کړي.

تر اوسه څرگنده نه ده چې افغان حکومت به کله ددې سیستم د تطبیق کیدو پریکړه کوي.

چارواکو په داسې حال کې د کانکور په سیستم کې د بدلون خبرې کوي؛ چې په وروستیو څو کلونو کې د کانکور په ازموینو کې درغلیو ادعاوې وشوې.

د کانکور په سیستم کې د بدلون خبره د پوهنې وزیر په هغې غونډه کې وکړه؛ چې په کابل ښار کې پنځو ښوونځیو ته د ودانیو د جوړولو په اړه جوړه شوې وه.

ښاغلي وردگ وویل، د کابل ښار په بیلابیلو سیمو کې د پنځ بابه ښوونځیو د نویو ودانیو د جوړیدو چارې پیل شوې؛ چې په دې سره به ۱۰ زره زده کونکو ته د زده کړې زمینه برابره شي: "د پنځه باب نویو ښوونځیو چې بنسټ ایښودل کیږي د دریمې ناحیې ۱۹ نمبر متوسطه جمال مېنه، د کابل ښار د څلورمې ناحې د حکیم ناصر خسرو بلخي او منوچهري ښوونځي، د ۱۶ مې ناحیې د نازو انا ښوونځي او د ۱۷ مې ناحیې نوی التاسیس شوی ښوونځي دي."

د یادو ۵ ښوونځیو لپاره په نویو ودانیو څه باندې یو اعشاریه درې میلیونه امریکایي ډالر لگښت راځي .

همدارنگه د پوهنې وزیر په کابل ښار کې د۷ بابه نورو ښوونځیو لپاره نوي جوړې شوي ودانۍ پرانستلې.

سور صلیب له افغانستانه بهرنې ...

د جلال اباد د دفتر رییس هم برسیرن ژوبل شو.

که څه هم ډیر افغانان د دې برید مسوولیت د طالبانو په منځ کې د آی ایس آی د غړیو کار بولي خو سور صلیب وایي چې د حملې هدف د دوی بهرنې کارکوونکې ول چې د برید په لومړیو شیبو کې افغان امنیتي ځواکونو اووه واړه وژغورل.

د سره صلیب د نړیوالې کمېټې ویندوی وویل، د مې د نهه ویشتمې نیټې (چهارشنبه) له حملې راوروسته د سره صلیب نړیوالې کمېټې پر له پسې بیرنې غونډې کړې دي.

سور صلیب په نړۍ کې تر ټولو زیاته بودجه افغانستان ته ځانگړې کړې ده. دا کمېټه د افغانستان لپاره د کال ۹۰ ملیون ډالره بودجه لري.

له افغانستانه د نړیوالو یا بهرنیو کارکوونکو له ایستلو سره به په افغانستان کې د دې کمېټې فعالیتونه هم محدود شي. په دې مسله به نړیواله ټولنه اندیښمنه شي ځکه چې افغانستان د نړۍ یو ناکراره هیواد دی او په جگړو کې یې د سره صلیب مرستو ته زیاته اړتیا لیدل کېږي.

په کابل کې د سره صلیب د نړیوالې کمېټې ویندوی رووین واودو وویل: «له ټول افغانستان څخه مو ځیل ځینې بهرنې کارکوونکي باسو او تر څو چې د حالاتو جاج اخلو او مالومات راټولوو خپل ځینې فعالیتونه هم دروو.»

ده په عین حال کې وویل چې دا تغییر موقتي دی.

د آی سي آر سي ویندوی ونه ویل چې څومره بهرنې کارکوونکې له افغانستانه باسي. ده د درول شویو فعالیتونو په اړه هم مالومات وړاندې نه کړل.خو ویې ویل چې د اورتوبیدی په برخه کې به خپلو خدماتو ته دوام ورکړي.

د سره صلیب د نړیوالې کمېټې د کابل د دفتر ویندوی دا هم وویل چې په کندهار کې به د یوه لوی روغتون ملاتړ او له خپلوانو سره د بندیانو د تماسونو په برخه کې مرستې ته دوام ورکړي.

دا کمېټه په افغانستان کې ۱۸۰۰ کارکوونکي او ۱۷ دفترونه لري.

ایران سعی دارد نفوذش را ...

از چندی به این طرف مراکز فرهنگی و خیریه را در افغانستان تاسیس کرده است.

آقای رحمانی که به روز سه شنبه در اجلاس عمومي مشرانو جرگه سخنرانی می گرد در مورد گفت:

"ایران سعی می نماید تا نفوذ خویش را برای مردم افغانستان تحت نام برنامه های فرهنگی و سازمان های خیریه گسترش دهد."

پیش از این شماری از استادان و محصلان پوهنتون کابل از ایجاد یک مرکز فرهنگی ایران به داخل پوهنتون کابل ابراز نگرانی کرده اند.

آنان می گویند که در این مرکز ایران کتاب های مربوط به آن کشور را گذاشته و از طریق این مرکز در تلاش تامین اهداف اش در میان محصلین افغان است.

عبید الله عبید وزیر تحصیلات عالی هم موجودیت این مرکز را تایید کرده اما گفته است که این نهاد قبل از تقرر وی به این سمت در سال ۱۳۸۶تاسیس شده است.

در کنار این مرکز فرهنگی ایران تعداد از نهاد های خیریه را در افغانستان نیز تاسیس کرده است.

بناد خیریه امام خمینی یکی از همین نهاد های است که از چند سال به این طرف در افغانستان فعالیت می کند و در مورد نحوه کار آن انتقادات هم موجود است.

در این حال شماری از سناتوران در اجلاس عمومی روی سه شنبه با انتقاد از فعالیت این مراکز، روی سفر تازه هیات طالبان به آن کشور هم بحث و گفتگو کردند.

سناتوران این مساله را یک نوع دیگر مداخله، ایران در امور افغانستان خواندند و از حکومت افغانستان خواستند تا در این خصوص از ایران وضاحت بخواهد.

هدایت الله رهایی یکتن از این سناتوران:

"وزرات امور خارجه افغانستان مکلفیت دارد که با مقامات ایرانی مذاکره نماید که آیا طالبان با مقامات ایرانی روی کدام مساله صحبت می نمایند، موضوع باید روشن شود، آیا آنها روی تخریب افغانستان مذاکره می نمایند، یا بخاطر صلح و امنیت، اگر بخاطر تخریب است واقعاً یک جفای بزرگ برای مردم افغانستان است و در این رابطه حکومت افغانستان باید موقف مشخص داشته باشد."

به اساس گزارش ها در جریان هفته جاری یک هیات از طالبان به سرپرستی ملا طیب آغا به ایران سفر کرده بود.

طالبان مسلح با نشر اعلامیه سفر هیات این گروه به ایران را تایید کرده و گفته است که دو طرف روی مسایل مورد علاقه بحث و گفتگو کرده اند.

اعتراف دو تن از سربازان انگلیسي ...

به همراه یکی از قوماندانان خود به آزار و اذیت اتباع غیرنظامی افغان متهم شده بود که قوماندان مذکور از اتهامات وارده تبرئه شد.

نام و مشخصات این نظامیان با این ادعا که ممکن است جان خود و خانواده ایشان به خطر بیفتد، اعلام نشده است.

در جلسه امروی این محکمه، یکی از نظامیان که به عنوان (سرباز X) معرفی شده، پذیرفت که در دسامبر سال ۲۰۱۱ (دی ماه ۱۳۹۰) و همچنین در اوایل سال ۲۰۱۲ هنگام حضور در افغانستان چند کودک را مورد آزار و اذیت قرار داده است.

سربازی دیگر که به عنوان (سرباز Y) شناخته می شود نیز به اتهام خود در زمینه رفتار توهین آمیز و نژادپرستانه علیه یک مرد افغان اعتراف کرده است.

قاضی محکمه نظامی قرار است بزودی رای خود را در مورد این دو نظامی متخلف اعلام کند.

طی سال های اخیر شکایت های زیادی علیه سوء رفتار نیروهای انگلیسی در افغانستان و حتی بازداشت غیرقانونی و شکنجه غیرنظامیان افغان مطرح شده است.

پاکستان بیا په گوښته کې د پوستو ...

د مشرانو جرگې عمومي غونډې ته د څواب ورکولو لپاره ورغلی وو، وویل چې ښایي په گوښته کې د تیرې څه باندې یوې میاشتې مخکې پیښه یو ځل بیا تکرار شي.

د افغانستان د دفاع وزارت وایي؛ که پاکستان یوځل بیا هڅه وکړه؛ چې د ننگرهار په سرحدي ولسوالۍ گوښتې کې امنیتي پوستې جوړې کړي نو یو ځل بیا به د افغانستان له جدي غبرگون سره مخ شي.

لوی درستیز چې د سې شنبې په ورځ د مشرانو جرگې عمومي غونډې ته د څواب ورکولو لپاره ورغوښتل شوی وو، وویل چې پاکستان یو ځل بیا هڅه کوي په گوښتې ولسوالۍ کې امنیتي پوستې جوړې کړي.

شیر محمد کریمي وویل، پاکستان خبرداری ورکړی چې په سیمه کې به د افغان ځواکونو له خوا ویجاړې شوې پوستې بیرته جوړې کړي.

لوی درستیز دغه څرگندونې پداسې حال کې کوي چې د امنیتي چارواکو د معلوماتو له مخې څه باندې یوه میاشت مخکې د افغان او پاکستاني سرحدي ځواکونو ترمنځ په گوښتې ولسوالۍ کې جگړه وشوه.

پاکستان د ننگرهار د گوښتې ولسوالۍ په سرحدي سیمه کې دروازه او نوې تاسیسات جوړ کړي و، چې وروسته دغه تاسیسات د افغان ځواکونو له خوا ویجاړ شول.